SHARIAT

شريعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتي ارگان

پنځم کال پنځه پنځوسمه گڼه پرله پسې (۳٤۲) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال دجمادي الاول (۵)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمياشتې(۱۵) د ۲۰۰۰ميلادي کال د اگست (۵)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ،
همدا (عـــدل) ډېر نږدې دی
تقوا (پرهېزگارۍ) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذاريد.

بهرنيو مؤسسو له تالقانو څخه وتل پيل کړل

هغوی ددې کار لامل په ښار کې نا امنی او د وسله والو تر منځ اختلافات ښودلی دی

کابل - باختر :

بهرنيو موسسو له تالقانو څخه د خپلو دفترونو د کار کوونکو او وسايلو په لېږدولو پيل کړی دی.

د باختر اطلاعاتي آژانس د افغان اسلامی آژانس له خولې خبر راکړ : بهرنيو موسسو له تالقانو څخه په خپلو دفترونو پورې د اړوندو کارکوونکو او وسايلو د لېږدونې کار پيل کړی دی.

د عينې شاهدانو د څرگندونو له مخې د تخار ولايت له مرکز تالقانو څخه د بهرنيو موسسو د کارکوونکو د وتلو علت د امنيت نشتوالی او د اسلامی امارت د مخالفينو د قوماندانانو او د وسله والو افرادو تر منځ د وسله والو نښتو امکان بلل شوی دی چې دغه عمل د مخالفينو تر کنټرول لاندې سيمو کې په وار وار شوی او د وسله والو کسانو د وژنې او د ملکی او بې گناه خلکو د قربانی سبب شوی دی. ٤ مخ

محترم مولوي فضل محمد «فيضان» معين وزارت تجارت در مصاحبه با «شريعت»

جهت رشد اقتصاد كشور برنامه های وسيعی را زير دست گرفته ايم

فعلاً گندم و ساير مواد اوليه از کشور هاي آسياي ميانه ، پاکستان و ايران وارد کشور ميگردد

در صورت توافق در جنسيت و قيمت قرار داد خريداري مقدار ۶۰۰ هزار تن گندم با کشور پاکستان عقد خواهد شد

وزارت تجارت کوشش ميورزد تا موانع تجارتي را رفع و زمينه بهبود آن را مساعد سازد

شريعت : خوانندگان عزيز! خبرنگارما اينبار در مورد کاهش تاثيرات ناگوار خشك سالي، تهيه و تدارك گندم و ساير مواد اوليه طرف نياز مردم از خارج كشور با محترم مولوي فضل محمد فيضان معين وزارت تجارت مصاحبه را انجام داده است كه توجه شما را به خوانش آن معطوف ميداريم.

در آغاز محترم مولوي فضل محمد فيضان معين وزارت تجارت چنين گفتند : به مقصد كاهش تاثيرات ناگوار خشك سالي در كشور وزارت تجارت امارت اسلامي افغانستان تلاش هاي همه جانبه نموده تا مواد غذايي بشمول گندم، مواد نفتي و ساير ضروريات اوليه مردم افغانستان تحت شرايط سهل تهيه و عرضه گردد. در اين عرصه علاوه بر تسهيلاتي كه در زمينه براي تاجران ملي و سكتور خصوصي كشور فراهم گرديده است يك مقدار كافي گندم، از طرف موسسات تجارتي امارتي مانند رياست عمومي ارزاق، شركت هاي افغان كارت، افتورك، افغنتنو و آريانا وارد و به نرخ ثابت امارتي عرضه گرديده است بايد گفت كه پروسه تورید و توزيع گندم تا كنون نيز جريان دارد.

موصوف علاوه نمود : فعلاً گندم و مواد خوراكه مورد ضرورت كشور از ممالك آسياي ميانه ، پاكستان، ايران و ص ٤

در محبس پل چرخي براي محبوسين سهولت هاي لازم مهيا شده است

محترم شاه محمد شاهد قوماندان محبس مركزي پل چرخي

محبوسين محبس پلچرخي توسط استادان مجرب در رشته هاي مختلف علوم ديني تحت آموزش قرار دارند.

محترم شاه محمد شاهد قوماندان عمومي محبس مركزي ضمن ابراز مطلب فوق افزود : بالاثر توجه مسوولين امور براي محبوسين سياسي و جنايي در محبس پلچرخي شرايط مساعد تعليمي در رشته هاي مختلف علوم ديني مهيا گرديده و توسط استادان ورزيده كه از طرف وزارت محترم حج و اوقاف موظف گرديده اند تدريس علوم ديني و حفظ قرآن ص ٤

تسهيلات جديد مخابراتي در شهر كابل فراهم ميگردد

كابل - باختر :

دستگاه جديد تيلفون اتومات ديجيتل عنقريب در شهر كابل نصب و مونتاژ ميگردد .

وزارت مخابرات به منظور فراهم آوري تسهيلات عصري و عرضه خدمات بهتر مخابراتي به هموطنان دستگاه جديد تيلفون اتومات ۱۲۰۰۰ لينه ديجيتل را براي شهر كابل از كشور چين خريداري نموده كه عنقريب نصب و مونتاژ ميگردد .

يك منبع مسؤول گفت : ص ٤

رهبر كودتاچيان فيجي به محكمه احضار ميگردد

جورج سپايت رهبر كودتاچيان فيجي براي جوابگويي به اتهامات وارده عليه وي به محكمه حاضر ميگردد .

مامورين قضايي جزيره فيجي گفت كه محاكمه جورج سپايت و حاميانش امروز آغاز ميگردد.

جورج سپايت در حال حاضر در جزيره نزديك سووا پايتخت ص ٤

در شهر كندهار :

مركز دستگاه مخابراتي افتتاح گرديد

كابل - باختر :

مركز دستگاه مخابراتي بين المللي ديروز در منطقه دروازه شهر كندهار افتتاح گرديد.

در مراسم افتتاح دستگاه متذكره محترم ملا محمد عثمان اخند ص ٤

په كابل كې :

د سركونو د ترميم كار په چټكۍ سره روان دی

كابل - باختر :

د كال ښارد مهمو سركونو ترافيكی جزيرو او د ښارد سركونو د گلدانونو د ٤ مخ

توليدات فابريكه جن و پرس رو به افزايش است

مزارشريف - باختر :

فابريكه تصدي جن و پرس ولايت بلخ در يك شبانه روز مقدار سه تن روغن را توليد نموده و مقدار بيست تن پخته را پروسس مي نمايد.

با تحكيم حاكميت امارت اسلامي در شمال كشور زمينه هاي بهتر كار و فعاليت در عرصه هاي اقتصادي فراهم ص ٤

در چوكات كميته المپيك :

انجمن هنر هاي رزمي ايجاد گرديد

كابل - باختر :

انجمن هنر هاي رزمي به نام ذوالفقار ديروز در چوكات كميته المپيك ايجاد گرديد.

در محفليكه به همين مناسبت تدوير يافته بود محترم محمد احسان مطمئن موسس انجمن ذوالفقار طي صحبتي ايجاد چنين انجمني را در امر تقويت نيروي جسمي جوانان و شاملين انجمن موثر خوانده و در رابطه به چگونگي هنر رزمي كانگ فو توضيحات ارائه نمود اين انجمن كه ص ٤

په افريقا كې :

د سيلابونو له امله دری مليونه تنه بې كوره شوی دی

د افريقا د وچې په مركز د كمبرون په هېواد كې د اوربښتونو او سختو سيلاونو د راوتلو له امله نږدې دری مليونه تنه بې كوره شوی دی. ٤ مخ

كمك هاي جمعيت افغاني سره مياشت توزيع گرديد

كابل - باختر :

جمعيت عالي افغاني سره مياشت براي ۲۹۸ فاميل بي بضاعت در مربوطات نواحي هشتم و سوم شهر كابل مواد ص ٤

محترم ملا نثار «نوري» مسؤول آمريت عمومي اطفائيه ولايت كابل در مصاحبه با «شريعت» :

اطفائيه ولايت كابل با داشتن ۸ عراده موتر مجادلوي حريق فعال ميباشد

از آغاز سال ۱٤۲۱ تا كنون ٤۵ واقعه حريق را در كابل خاموش ساخته ايم

شريعت : كار باز سازي كشوردر صدر برنامه هاي ا.ا.ا قرار داشته و بيشترين هزينه بيت المال امروز وقف اعمار و باز سازي كشور ويران و جنگ زده ما ميگردد.

اطفائيه در هر نوع شرايط ستون اساسي شهر را تشكيل ميدهد، مسؤولين ا.ا.ا با توجه به اين نكته جهت احيا و باز سازي ستيشن هاي اطفائيوي كشور اهتمام خاص به خرج داده و در امر گسترش و تقويه اين شبكه احساس مسؤوليت نموده اند. ص ٤



نمايي از مسجد شاه دو شمشيره «عليه الرحمة» در مركز شهر كابل — عكاسي يوسف

په هندوستان كې :

د سيلابونو له امله سل تنه ووژل شول

د هندوستان د ميچل پرديش په ايالت كې د وروستيو سيلاوونو د قربانيانو شمير څه د پاسه سلو تنو ته ورسيد.

د حكومتي مامورينو د خبر له مخې د دغه سيلاو د راوتو له امله د وژل شويو كسانو شمير به په احتمالی توگه زيات شي ځكه تر اوسه پورې زياتره كسان په دغه ايالت كې ورك دي او دا انديښنه شته چې د ستليج ٤ مخ

په امريكا كې :

د لگيدلی اور لمبې ژبغراندي شوی

د امريكا د متحده ايالاتو د لويديځو سيمو په ځنگلونو كې اورلگيدنه دوام لري.

دغه اور په دې وروستيو وختو كې لگيدلی او په قوي احتمال سره د امريكا په زياتره ايالتونو كې به له تالندې او بريښنا سره يو ځای وچ توپانونه په دغو سيمو كې ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د افغان جنايتكارو په محاكمه كې ولې د توپير نه كار اخيستل كيږي؟

په دې وروستيو ورځو كې نړۍ والو راډيو گانو په لندن كې د «زرداد» د محاكمې او جنايانو په هكله خبرې او تبصرې پيل كړي ، چې مهمه يې د بخښنې د نړۍ والې ټولنې له خوا د «زرداد» د نيولو او محاكمه كولو خبره ده. په دې ترڅ كې د لندن پوليسو هم تياری ښودلی چې كه څرگند شواهد په لاس ورشي ښايي نورورو ته د خپلو كړو ۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات ۶۲۸۵۹

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

وړو پوره سزا ورکړي. په دې ځای کې مونږ د زرداد د کړو وړو او خلکو ته د هغه د وربېژندلو په هکله کومه تبصره نه کوو، ځکه هغه په افغانانو برسیره نورو نړی والو ته هم ښه معلوم دی. «نه په خپله دوره کی په وژنو، چورتالان او د بی وسه بی کسه لاروېو په ځورولو ښه ځان ستړی کړی او نړیوال شهرت یی موندلی دی. خو زمونږ مقصد دا دی چی نږدی لس کاله کیږی د خلقیانو او پرچمیانو په سل گونو کسان په همدغو لویدیځو هیوادو کی چی د بشر د حقوقو ډیری ناری سوری وهی، ښه په ناز او نخرو خپل ژوند او مزې چړچې کوی. سره له دې چی هم ټول افغان ولس او هم گرده نړی په دې ښه خبره ده چی جنایت کارو کمونیستانو د خپلی بدمستی په زمانه کی په مظلومو افغانانو هغه نادودی وکړی چی بشری تاریخ یی ډیر کم مثالونه لری، همدا جنایت کاره ظالمان وو چی د افغانانو هیواد یی له یوی مخی په اور واړاوه د هیواد په زرهاو دینداره علما، دردمن مشران، پوهان، انجنیران، ډاکتران او نور مظلوم وگړی یی په زندانو کی واچول، وہی ربړول او په ډله ایزه توگه یی ژوندي تر خاورو لاندی کړل.

همدغه شرمیدلی څیری وی چی د روسی لښکرو په ملتیایی یو نیم ملیون بی دفاع هیواد وال د خپلو بمباریو او توپونو په دوړو کی له خپل کور اور سره له منځه یوړل او د روسانو په چوپړ یی ځان ته په ملی کچه د بی ننگی هغه تاریخی تور داغ وگاټه چی تر پیړیو پیړیو به د راتلونکو نسلونو له یاده ونه وځی. همدانن سبا د خلق او پرچم د خاینو او پلورل شوېو ډلگیو په لس گونو سرخیلان په فرانسه، هالینډ، برتانیه، المان امریکا او نورو هیوادونو کی د هیواد نه غلا کړیو شتمنیو سره په خپل شراب کباب لگیا دی، په دې لړ کی نور احمد نور، اناهیتا راتب زاد، محمود بریالی، فضل حق خالقیار، غلام مصطفی رسولی، کفایت الله، عبدالحمید محتاط،اسلم وطنجار، عبدالمالک او ... ډیر چی ټول د افغانانو پورورې او د خپلو سزاگانو د گاللو لپاره سمدستی مطلوب دی، د مثال په ډول یادولای شو او سره له دې چی ټول افغان ولس ددغو جنایتکارانو فوری محاکمه غواړی او زیاتره یی د پوښتنی گرویږنی لپاره په اړوندو هیوادو کی پولیسو هم وریللی دی، خو بیا هم لا تر اوسه نه دی لیدل شوی چی د دوی په محاکمه کی څه اقدام شوی وی . له همدی ځایه څرگندیږی چی اوس په لویدیځه نړی کی د جهاد او مجاهدینو د بدنامولو لپاره یو نوی پروگرام جوړ شوی او دا دی د لومړی ځل لپاره یی د زرداد په شان یوه نا مطلوبه څیره تر څیړنی لاندی ونیوله تر څو په دې ډول وښیی چی همدا د جهاد انجام او نتیجه ده .

دوی هڅه کوی چي د زرداد په څیرنا مطلوبه څیري د مجاهد په نامه مشهور او بیا جهاد وریاندی بدنام کړی. په داسی حال کی چی د افغانستان جهاد یو بر حقه جهاد وه .د ټول ملت بوازنی هدف د خپل دین، ناموس، او خپل ثقافت څخه دفاع وه.مجاهدینو د پردی تپل شوی ایدیالوژی پر خلاف او د یو سوچه اسلامی نظام د قیام لپاره هلی ځلی کولی او خپل سرونه یی ځارول.دا یو داسی نوم و چی د هر ناولی ناشولته لپاره نه استعمالیده.خو په هر صورت اوس لنډه مطلبی خبره دا ده چی افغان ولس له یوه سره د ټولوظالمانو ، جنایتکارانو او خائنانو محاکمه غواړی او باید په دې‌هکله له توپیر نه کاروانه خپستل شی چی یو په ځنگ کی ونیول شی، وناژول شی، او بل محاکمه کیږی، ځایی په دی ډول به هر چاته دا شک پیدا شی چی ددی محاکمی شاته څه اهداف دی او نړی وال زمونږ د مسلمان ملت په اړه څومره کاږه نیتونه لری. د افغانستان اسلامی امارت چی د افغانانو د زرگونو او لکونو شهیدانو د وینو محصول، د هغوی د ارمانونو وارث او د خپل مجاهد ولس د پراخو پرگنو استازی دی، ددی حق لری چی ددغه شان ملی خائنانو او تاریخی ظالمانو د محاکمی او یا بیرته راستنولو غوښتنه وکړی او د خپل میړنی او مجاهد ملت په‌مخ کي يې محاکمه او د هغوي ارمانونه تر سره کړی.

دغه نیستي او دا کانونه زمونږ!

فاروق

گران هیواد افغانستان ماشاء الله په طبیعی زیرمو ښه موړ دی، ښه د کرنی وړ خاوره لری، او به لری، د کښت او میوو لپاره مناسبه هوا لری، گران بیه غمی او فلزات لری، د سونگ مواد، گاز او نفت لری او غرنی ځنگلونه او طبیعی بوټی لری، خو له دې ټولو سره سره بیا هم د سختی نیستی سره مخامخ یو، د غلی اړیو، دارو درملو اړیو، د پوښاک اړیو او لنډه دا چی د ژوند په لومړنیو اړتیاو کی هم د هر کس او ناکس متازی تیروو او کله نا کله د پردیو د ناروا شرایطو په منلو هم اړ کیږو ، سخت کړاو او زحمت تیروو، لوږی تندی او ډول ډول ناروغی زغمو خو بیا هم څه داسی سوچ نه کوو چی راځی د خپلو اړتیاوو د بنسټیز حل لپاره څه لاره چاره وسنجوو، راځی د عمل لپاره یو پلان او نقشه جوړه کړو له وخته استفاده وکړو او په خپل وحدت او ملی قوت سره د پرمختگ په لاره کی خنډونه او مشکلات له مخی لری کړو او ځان د خلکو له احتیاجه وژغورو تر څو په ښه ډول خپله آزادی وساتلای شو او په خپلواکی سره پر خپلو دینی اساساتو او ملی روایاتو عمل او له خپل پت او عزت څخه دفاع وکړای شو په دې کی هیڅ شک نشته چی ډیر فقر کله کله سړی سختو ناروا ته هم راکاږی ، بی عزته کوی یی او د هر رذیل او بی شرفه تابعداری ته بی مجبور وی، مونږ باید خپل چاپیریال ښه وڅیړو ، له حالاتو ځان خبر کړو او هغه عوامل را پیدا کړو چی مونږ یی درویزی ته اړویستلی یو او هر یو په رڼو سترگو وینو چی زمونږ په کورنیو چارو کی لاس وهنه کوی په دې هکله څرگنده خبره دا ده چی په تعلیمی ډگر کی نیمگړتیاوی لرو ، همدغی نیمگړتیا مونږ ته مشکلات را پیدا کړی، په ساینس او تخنیک کی یی وروسته پاتی کړی یو او په ښه ډول نه شو کولای چی له خپلې موجوده هستی او خپلو طبیعی زیرمو نه په ښه ډول استفاده وکړو او بیا له همدی لامله د فقر او نیستی سره مخامخ یو چی په نتیجه کی د پردیو مداخلی ته لاره هواره شوی او جهل، اختلافات او خپل منځی جگړی را باندی تپل شوی دی . د همدی فقر له کبله مو دښمنان کولای شی په لږو پیسو په مونږ کی خپل نوکران وروزی، امنیت مو خراب او ډیر نور مشکلات راته پیدا کړی، که مونږ وکولای شو او د ښو اقتصادی ماهرینوپه سلا مشوره اغیزناک اقتصادی پروگرامونه جوړ کړو، له خپلو خاورینو ډاگو او روانو سیندونو کار واخلو او د خپلو معدنونو د راتیولولاری وسنجوو نو ډیر ژر به زمونږ ولس په خپل کار او کور بسیا او له فقر او نیستی به وژغورل شی، د خپلو طبیعی شتمنیو څخه په ښه ډول کار اخیستلو څخه مو هیڅوک هم نه شی ایسارولی او د مغرضینو اقتصادی کلا بندی مو دننه په خپل کور کی له کاره نه شی منع کولای نو راځی په دې هکله ښه ډیر سوچ وکړو، سپین گیری مشران او کار پوهان سره کینوو او د خپلو دغو ملی اقتصادی مسایلو لپاره د حل لاری ولټوو،

همدارنگه که ممکن وی او یو فعال اقتصادی کمیسیون جوړ شی او د اړوندو کارو سره سره د هیواد د پانگه والو په راټولولو، منظم کولو او کارته را تشریقولو کی څه گامونه واخلی او هغوی په دې قانع کړی چی په زراعت ، د اوبه خور نظام او د معدنونو په راویستلو کی پانگه ولگوی، مناسب آلات او وسایل وپیری او د گټی په برخه کی هم د حکومت سره په کومه منځنی لاره توافق وکړی ځکه په نن سبا شرایطو کی اسلامی امارت له مالی پلوه کمزوری دی او دومره وس او وسایل نه لری چی دا هر څه په خپلو پیسو روان کړی نو ښه به دا وی چی شتمن هیواد وال راوبلی او د کار او پانگی اچونی مناسب ځای ورته وښیی او هسی هم شخصی او خصوصی سکتور د کارو په پرمختگ کی د حکومتی پروگرامونو په مقابله ښی نتیجې ورکوی او له دې پرته بله چاره هم نشته ځکه بهرنی کمپنی خودښمنان نه‌را پریږدی. امارت سره پیسی نشته نو همدا یوه لاره ده چی شخصی پانگه‌وال را دعوت او د روانی نیستی اغیزی لږ را کمی کړو.

بحران شرق میانه و انعکاس های جدید سیاسی

غلام سخي اثمر

بحران شرق میانه بحرانیست مزمن و ریشه هاي نه تنها سیاسي بلکه اقتصادي و مذهبي نیز دارد .

این بحران در سال ۱۹٤۷ بر طبق معاهده بالفورد که به نحوي و لو در حال پوتانسیل تهداب « کشور اسرائیل » بنیاد گذاشته شده آغاز یافته است.

جنگهاي سالهاي ۱۹۶۷-۱۹۷۳ که بالترتیب سرزمین هاي زیادي از کشور هاي عربي در آن تحت تصرف اسرائیل در آمد و مصر در جنگ اخیر با شکستاندن «خط باریف» اسرائیل که گفته میشد شباهتهایی با خط مازنو داشت و بسیار مستحکم بود سرزمین هاي خود را دو باره بدست آورد و بیست سال قبل در همین کمپ دیوید که مذاکرات اخیر اسرائیل و فلسطیني ها در آن به شکست مواجه شد با اسرائیل معاهده صلح را امضا نمود که به معاهده کمپ دیوید شهرت درد .

اینکه چرا این مذاکرات که تقریباً نیم قرن به شکلي از اشکال ادامه دارد و زماني روسها هم در آن سهم بارز داشتند به شکست ها مواجه مي شوند، دادن پاسخ به آن مشکل است زیرا در هر دو طرف مشکلاتي وجود دارد .

باید ابراز داشت که اساس موفقیت داعیه فلسطیني ها را وحدت کشور هاي عربي به خصوص سهم گیري مصر و عراق تشکیل میدهد در حالیکه مصر تا حدودي در این داعیه عملاً اشتراك داشته ولي عراق به آن توجه چنداني نشان نمیدهد .

علت اینکه عراق چرا باین کار توجه نشان نمیدهد از یك جانب بي توجهي نسبي تمام کشور هاي عربي در رابطه با وضع تعزیرات در عراق است و از جانبي هم در موورد تعزیرات وضع شده بالاي عراق کشور هاي عربي از اظهارات مستقیم براي رفع آن صحبت نمیکنند و به هیچگونه به جز مصر در مورد داعیه فلسطین کشور هاي دیگر عربي سیاست فعالي را دنبال نمیکند.

در اسرائیل خواست عمومي این است که اسرائیل باید از بیت المقدس صرف نظر نکرده و حتي قسمت شرقي آنرا هم به فلسطیني ها ندهد . گفته مي شود که اکثر کشور هاي عربي باین عقیده اند که بیت المقدس باید یك شهر واحد مانده و به مرکز دولت اسرائیل مبدل گردد.

در حالیکه فلسطیني ها در موازات با سایر خواستهاي شان مانند سرنوشت سرزمین هاي غرب رود اردن ، غزه، بازگشت مهاجرین آنها از اسرائیل ، محلات مسکوني اسرائیلي ها در مناطق فلسطیني الاصل و غیره عدم موافقتهاي زیادي از این چنین دارند.

از محبوبیت یاسر عرفات قبل از مذاکرات کمپ دیوید که به شکست مواجه شد در میان فلسطیني ها و کشور هاي عربي زیاد کاسته شده بود و حتي در داخل دچار مشکلات سیاسي فزاینده بود ولي به یکبارگي احساسات مردم فلسطیني و جهان عرب به نفع یاسر عرفات اوج گرفت و حین بازگشت به فلسطین از طرف مردم با یك استقبال بي سابقه رو برو شد .

قضایا هر طور شود خواهد شد ولي براي یاسر عرفات بر حسب مقاومتش در برابر خواست اسرائیل که بیت المقدس باید بدون تقسیم به آن کشور واگذار شود از شهرت سیاسي اجتماعي و سرتاسري در میان کشور هاي عربي بهره مند گردید. میتوان گفت که این تغییر براي عرفات یك تغییر مهم و براي بحران شرق میانه از نگاه نقش شخصیت ها نقطه عطف میتوان بشمار آورد.

دراسرائیل رئیس جمهور جدید رویکار و شیمن پیرز را در انتخابات شکست داد و گفته مي شود که ایهود بارك با دو رأي به نفع خود از پارلمان دو باره رأي اعتماد گرفت ولي او وقت چندان زیادي تا آغاز انتخابات جدید که حتي حزب خودش هم آنرا پیشنهاد مي کند ندارد.

ایهود بارك خود را علاقمند جدي پروسه مذاکرات صلح میداند ولي موقف سیاسي اش ضعیف شده و در پارلمان آشکور و در خارج از آن در مقیاس حکومت ومردم انتخاب هاي سیاسي جدیدي علیه او به وجود آمده است.

موضعیکه هر چه بیشتر مبصرین سیاسي را بر حیرت انداخته است این است که رئیس جمهور جدید اسرائیل که شهرت چنداني نداشت رقیبش شیمون پیرز را شکست داد رئیس جمهور جدید از یکطرف ابراز داشت که در امور سیاسي کشوري مداخله نخواهد کرد و رئیس جمهور تمام اسرائیل خواهد ماند ولي پیوست به ان بطور تاکید بیان نمود که بیت المقدس باید بحیث یك شهر واحد جز قلمرو اسرائیل باشد.

گفته مي شود که اکثر کشور هاي غربي به همین مفکوره هستند که بیت المقدس باید مرکز دولت اسرائیل گردد پس معلوم مي شود که اسرائیل به تقسیم آن به بیت المقدس شرقي (تحت تصرف فلسطیني ها) و بیت المقدس غربي(تحت تصرف اسرائیل) راضي نخواهد شد.

از جانب دیگر حمایت کشور هاي عربي از مقاومت سیاسي یاسر عرفات در برابر خواستهاي اسرائیل او را دو وضعي قرار داده است که این شهرت و محبوبیت خود را به اسالي از دست نخواهد داد و بنابر آن مخصوصاً در مورد عدم تقسیم بیت المقدس به هیچگونه سازشي آماده نخواهد شد.

از جانب دیگر اخیراً مقامات کویتي ابراز داشته اندکه با عراق در مذاکرات وارد نخواهد شد زیرا خطري هنوز هم به کویت وجود دارد و این کشور به معاهدات دفاعي خود با کشور هاي غربي ادامه خواهد داد . این است یك انشعاب دیگر در سطح کشور هاي عربي و این هم در حالیکه امکان روابط بهتر، میان مصر و عراق بوجود آمده است.

هم نماینده گان بلند پایه امریکا و هم یاسر عرفات به دیپلوماسي بدون توقف دست یازیده اند و به کشور هاي مختلف سیر و سفر مي کنند تا امکانات صلح شرق میانه را با آنها مورد بحث قرار داده نظریات خود را به انها توضیح دارند .

از طرف دیگر از اظهارات راکع دارو مریز واتیکان و رهبر کاتولیکان جهان پاپ معلوم میگردد که نه میخواهد بیت المقدس تقسیم شود. فارمول سوم شاید این باشد که بیت المقدس به تمام آن ملتهایي تعلق گیرد که در آن جا هاي مقدس دارند ولي این طرز حل بعید به نظر میخورد.

این بود تحلیل و تا حدودي دقت بر اوضاع شرقمیانه که گفته مي شود اگر صلح کامل آنجا بر قرار شود پنجم حصه سرمایه تمام جهان در آن سرمایه گذاري خواهد شد . گذشت زمان همه مسایل را روشن خواهد ساخت و از همه مهمتر باید انتظار داشت که سیزدهم سپتمبر سال جاري برسد و آنطوریکه یاسر عرفات بار ها اعلان کرده است که استقلال فلسطین را اگر مذاکرات موفق شود و یا نشود اعلان خواهد نمود.

۲ شرح منظومهٔ عروج و نزول اسلام

پوهیالی لیلما "یما"

میلاد حضرت پیامبر اسلام "ص"، نوری در میان تاریکي ها

بند هفتم :

آن حبیب خاص بیچون صدر و بدر کاینات
روي او صبح سعادت موي او شام برات
با تحمل بر مصایب، با قبول مشکلات
ون به نشر دین حق پرداخت با عزم و ثبات
زنگ کفر از چهره، آیینه، عالم زدود
خار گمراهي ز روي گلشن دوران درود

شرح : او محبوب بیچون و چراي ذات الهي بود و سرور کاینات است و روي او مانند صبح سعادت و خوشبختي زیبا و پر نور بود و موي مبارکش چون شب برات پر درخشش. او با قبول مصایب و مشکلات فراوان با عزم راسخ به نشر و پخش دین حق پرداخت و با این کار بس مهم وارجناك خویش زنگار کفر و خداستیزي را از رخسار آیینه، جهان پاك کرد و خار هاي ضلالت و گمراهي و بدبختي را از گلشن ایام درو نمود.

بند هشتم :

یکطرف دین را به عالم داد عز انتشار
یکطرف مشغول شد با کافران در کار زار
یکطرف فتح ممالك کرد با تیغ وقار
یکطرف محو جهالت را نمود از روزگار
با بسي زحمت سوي حق خواند خاص و عام را
ساخت شایع دین پاك اقدس اسلام را

شرح : حضرت محمد «ص» از یکطرف با عزت و افتخار تمام به نشر و پخش دین اسلام پرداخت و از جانب دیگر درمیدان جنگ عملاً با کفار کار زار کرد و از سوي هم با ابهت و وقار و صلابتي که داشت ممالك متعدد را زیر تاثیر اسلام در آورد و از طرف دیگر جهالت و ناداني را با کار تربیتي خویش از صفحه، روزگار پاك کرد و به این ترتیب با تحمل اینهمه زحمات و تکالیف، خاص و عام را به سوي دین حق فرا خواند و دین پاك و مقدس اسلام را در جهان شایع نمود.

بند نهم :

آنکه از وي گلشن آفاق رنگ و بو گرفت
آنکه از وي خلق عالم سیرت نیکو گرفت
آنکه از وي علم و فن ترویج در هر سو گرفت
آنکه از وي چهره انساني آب رو گرفت
آنکه از وي حل عقد کارِخاص و عام بود
راست گویم دین حق اقدس اسلام بود

شرح : حضرت پیامبر «ص» کسي است که گلشن جهان از گل وجود مبارکش رنگ و بوي تازه گرفت و مردم جهان از سیرت نیکویش متخلق به اخلاق حمیده شدند و علم و دانش و تعلیم و تربیت که قبل از وي در انحصار خواص و یك گروه مشخص قرار داشت، همه خاص و عام از آن مستفید شدند و در هر طرف رواج یافت و انتشار پیدا کرد و برده گي و بنده گي غیر حق از میان رفت و به مقام و منزلت انسان به طور کل ارج گذاشته شد و بدین ترتیب مردم همه خود به حل پرابلم هاي خویش نایل آمدند و حقیقتاً این همه از برکت حضرت پیامبر اسلام و دین اسلام که واقعاً دین مقدس و حق است نصیب مردم شده است.

ادامه دارد

چیچنیا سوځی

محمد الله «نورستاني» — دوهمه برخه

د روسیي دریغ :

د روسیي موقف دا دي چي چیچنیا د هغوي د خاوري یوه نه بیلیدونکي برخه ده خو د هغوي کوښښ دا دي چي د پوځي کاروائي په طفیل به هلته د خپلي خوښي یو گوډاگي حکومت جوړ کړي. څیړونکي په دي باور دي چي د تیرو انتخاباتو لپاره هغه وخت چي د ریاست جمهوری ټاکنی وی پوتین ددی کاروایی یعنی «شطرنج د لوبی» یو چال و تر څو چی عوامو ته فریب ورکړی چی گواکي ده ته د روسیی سالمیت نهایت زیات ارزښتناک دی څنگه چی د نومبر په اوله نیټه روسی لومړی وزیر ولادیمیر پوتین په یوه بیان کی وویل : مونږ د ټول جمهوریت فتح کولو لپاره په رعیت باندی سختی نشو راوستلی . پوښتنه دا ده کومه سختی ده چی دوی پرچیچن عوامو نده کړی ؟ لیکن له هغو کسانو سره چی تر څنگلو پوری یی لاسونه په وینو سره دی پرمیز باندی خبرو ته هم نشو کیناستلای د نومبرپه ۵ مه نیټه پوتین وویل : له چیچن څخه تر وروستی ترهه گر، ختمولو پوری به جنگ جاری وی کوم جنرال چی له جنگ څخه ډډه وکړی هغه ته به استعفی ورکولای شی.

• د نومبر ۱۹ مه : د روسیی د کورنیو چارو وزیر ایگورایوانوف وویل : مونږ ته د سولی حاجت نشته ، د اروپایی اتحادیی یا د کوم بل نړیوال تنظیم د سولی کوښښ به د روسیی په داخلی چارو کی لاسوهنه وگڼلای شی.

د ملگرو ملتونو دریغ :

ملگری ملتونه څرنگه چی اوس د امریکی یوه لاس پوڅی اداره ده څکه نو له دوی څخه د خیر تمه نشی کیدای، د کاسووا په مسلمانانو چی څه موده وړاندی څه تیر شول هغه له هیچا څخه پټ ندی چی د مسلمانانو له تباهی څخه وروسته ملگری ملتونه په حرکت کی راغلل، د مسلمانانو په قربانیو یی اوبه وشیندلی او له خپلواکی څخه یی محروم کړل. د چیچن په باره کی چی ټوله دنیا چوپه خوله ده ملگرو ملتونو هم لکه د گونگ شیطان پالیسی خپله کړی ځکه چی هلته یهودیان او عیسایان نه بلکی مسلمانان اوسی څرنگه چی کوفی عنان روسیی ته د حملی بندولو وړاندیز وکړ نو په مقابل کی روسی لومړی وزیر بیان ورکړ چی روس خبرو ته چمتو دی خو نه هغو خلکو سره نه چی د خلکو پر کوپړیو باندی ولاړ دی، ددغه ځواب په اوریدو سره ملگری ملتونه بیخی چوپ شول او دا پوښتنه چا ونکړه چی پر کوپړیو څوک ولاړ دی ؟

د ختیځ تیمور د مسئلی په څو اونیو کی په حل کولو سره یو صلیبی ریاست جوړ کړی شو لیکن د مسلمانانو ددغه ازاد جمهوریت ازادی هیچا ته هم د منلو وړ نده خپل او پردی ټول د هغوی دښمنان دی، یا خو په چا کی روس ته د حقی خبری کولو همت نشته او یا هم د هغوی گټی د حق ویلو پر وړاندی مانع دی.

د بشری حقوقو تنظیمونه :

د بشری حقوقی ټولنو ذمه وار افراد په دی حقیقت ښه خبر دی چی چیچنیا په هغو سختو سرو ورځو کی د سختو بمباریو له امله په زرهاو مهاجرینو د انگوشتیا په کمپونو کی وخت تیراوه چیرته چی نه د یخنی په وړاندي څه انتظام و او نه د خوراکی موادو څه درک ، د بشر د حقوقو په نامه ټولنو هم دا حالت تشویشناک وښود او له ټولی نړی څخه یی وغوښتل چی د مهاجرو خبر واخلی پدی لړ کی د ملگرو ملتو د مهاجرینو د اداری مشر صرف د خیمو او کمپ پردوری او د حالاتو په جاج اخیستنی باندی اکتفا وکړه .

د اسلامی کنفرانس کردار :

د اسلامی هیوادونو د سرمشریزی اداری کردار هم پدی اړه بالکل د تاسف وړ دی د ډیرو غیر حکومتی اسلامی تنظیمونو له اصرار سره سره یی تر اوسه پوری یو اجلاس قدری هم راونه غوښت او نه هم په حکومتی کچه دی مسئلی ته چا پام وکړ .

د اسلامی تنظیمونو غبرگون :

په انفرادی توگه ډیرو اسلامی اتحادیو د روسیی په ظلمونو احتجاج وکړ مگر د دغو اسلامی گوندونو په وس کی څه نشته هغوی صرف یو بیان یا مظاهری قدری کولای شی، په ځینو اسلامی هیوادونو کی د اسلامی گوندونو لخوا په چیچن د روسانو یرغل وغندل شو او له اسلامی کانفرانس څخه یی وغوښتل چی د نوموری ټولنی د اجلاس په راغوښتلو سره د چیچن د مسئلی جاج واخلی لیکن د اسلامی هیوادونو د چارواکو چوپتیا نهایت افسوسناکه ده .

د روسیی د حکومت یو طفلانه بیان :

د ۱۹۹۹ کال د نومبر ۲۳ مه د روسیی لومړی وزیر په یو بیان کی وویل : « زمونږ مقصد د گروزنی تباه کول، نه بلکی د ترهه گری ختمول دی گواکی دهشت گردی که د گروزنی له پاسه چیری په فضا کی ځوړنده هم وی وریاندی هوایی حملی کولای شی.

د چیچنیا حالت :

دی وخت کی د چیچن مجاهدینو حوصلی ډیری او چتی او مورال یی ښه اطمینانی دی هغوی له یو په لس چندو څخه هم زیاتو دښمنانو سره لاس او گریوان دی مگر روسی وحشی پوځیان چی کوم ځای ته رسیدلی نو هغه سیمی یی دومره تباه کړی چی د هغوی په وړاندی د هلاکوخان او چنگیز خان ظلمونه هم هیڅ دی یوه تعمیر ته د روسي پوځی له ننوتو څخه وروسته فقط هلته د تعمیر دیوالونه ولاړ وی په بمباریو باندی هر څه تالا کړی شوی، د سیمی زیات خلک مهاجر او بی کوره شوی د نړیوالو خبری ذریعو په وینا په دی وخت کی د انگوشتیا په پوله د مهاجرو ٦ کیلو متره اوږد کتار نوموړی هیواد ته د داخلیدو د اجازی منتظر دی ، په روغتونو کی د مریضانو،او ټپیانو د دارو درملو سهولتونه هم کم دی بلکی روغتونونه هم نیست او نابود شوی کلیو او ښارونو باندی پرله پسی بمباری کیږی او ټول په کنډوالو بدل شوی د روسیی ترولکی لاندی سیمو کی په شپی گرځیدو بندیز لگول شوی کوم خلک چی د خپل ځان په ژغورلو بریالی شی هغوی بیرته خپلو کورونو ته ستنوی لنده دا چی کوم ظلم دي چی هلته نه تر سره کیږی

د یوه روسی افسر بیان :

مونږ ښاریانو ته خبر ورکړی چی یا دي ښار له چیچن جنگیالو څخه پاک کړی او یا دی د بمباریو مخالفت پریږدی له دی وروسته چی څه کیږی مونږ بی ذمه وار نه یو.

اوس پوښتنه دا ده چی ددی ذمه وار به آخر څوک وی ؟

■

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا — ژباړن : بشار — ۱۱

د اصحابو د ژوند پلوشي

برآء بن مالک الانصاری

برآء د پیچلو ویښتانو، خاوزینی څیری ، ډنگر صورت او وتلو هډوکو خاوند و سترگو به نشو کولای چی ورته په اسانی سره وگوری، او بیا چی به یی ورته وکتل نو ژر به ور څخه په بله خواشولی مگر سره ددی هغه تن په تن جنگ کی یواځی پخپله سل تنه مشرکان وژلی دي،او دا سربیره په هغو کسانو دی چی هغه بی د جنگ په گډه گوډه کی د نورو جنگیالو سره وژلی دی هغه داسی زړور او تورزن و چی فاروق د هغه په باب خپلو والیانو او مامورینو ته داسی ولیکل : هغه دی د مسلمانانو په لښکر مشر ونه ټاکل شی ځکه ددی ویره شته چی هغه پخپل زړورتوب لښکر د هلاکت سره مخامخ نکړی.

برآء بن مالک الانصاری د رسول الله «ص» د خادم انس بن مالک ورور دی. که زه د برآء بن مالک د قهرمانی او زړورتوب خبرونه راجع کړم نو خبره اوږده او ځای به تنگ شی نو له همدی امله می وغوښتل چی د هغه د قهرمانی او میړانی له کیسو څخه یوه کیسه وړاندی کړم، او هغه به تاته د نورو کیسو څرگندونکی وی.

دغه کیسه د حضرت پیغمبر «ص» د وفات له لومړیو شیبو چی خدای «ج» ته ورځی په داسی حال کی پیل کیږی چی د عربو قبیلی څرنگه چی په اسلام کی فوج فوج داخل شوی وی فوج فوج د خدای له دین څخه راوځی تر دی چی په اسلام کی بی د مکی، مدینی او طایف له خلکو او دلته او هلته له خورو ورو ټولگیو څخه چی خدای «ج» د هغوی زړونه په ایمان ثابت گرځولی و بل څوک پاتی نشو.

ابوبکر الصدیق «رض» ددغی خطرناکي فتنی په مقابل کی لکه ثابته غرونه ټینگ ودرید، او د مهاجرو او انصارو یوولس لښکری یی سنبالی کړلی او د دغو لښکرو د قوماندانانو لپاره یی بیرغونه وتړل او دغه لښکر یی د جزیرة العرب شا و خوا ته ولیږلی څو مرتدین یعنی د اسلام څخه گرځیدلی، بیرته د حق او هدایت لاری ته راوگرځوی، او هغوی د توری په تیغ سره بیرته اسلام ته راواړوی، د مرتدینو خورا ډیر او قوی کسان بنو حنیفه د مسیلمة الکذاب ملگری و د مسیلمه له قوم او دوستانو څخه د مسیلمه په مشری څلویښت زره قوی جنگیالی راټول شول او ددغو جنگیالیو څخه د زیاترو کسانو پلوی او ملاتړی د عصبیت او قومیت له حیثه وُ نه د عقیدی له مخی. ځنو په دغه باب داسی ویل : شاهدی ورکوم چی مسیلمه دروغجن او محمد رښتین دی مگر مونږ ته د ربیعه دروغجن مسیلمه د مضر له رښتین محمد څخه گران دی.

مسیلمه د مسلمانانو لومړی لښکر ته چی د عکرمه بن ابی جهل په قوماندانی و ماتی ورکړه، او بیرته یی په شا وتمبول.

په دغه وخت کی ابوبکر الصدیق «رض» د خالد بن الولید په مشرتوب بل لښکر ولیږه، او په دغه لښکر کی د انصارو او مهاجرینو مخورو اصحابو هم گډون کړی و او د دوی په راس کی برآء بن مالک الانصاری او د مسلمانانو زړور کسان لیدل کیدل.

د مسلمانانو او د مسیلمه دواړه لښکری د یمامه د ځمکو د نجد په سیمه کی سره مخامخ شوی څه وخت لا نه و تیر شوی چی په جنگ کی د مسیلمه او د هغه د جنگیانو پله درنه شوه، او ځمکه د مسلمانانو د لښکرو د پښو لاندی ولړزیدله، او د اسلام لښکریان د خپلو ځایونو په پرېښودلو شول تر دی چی د مسیلمه پلویان د خالد بن الولید خیمی ته ورننوتل، او هغه یی وغورځوله، او نژدی و چی د هغه ښځه ووژنی مگر د هغو د یوه تن په سپارښت ښځه ژوندی پاتی شوله . په دغه وخت کی مسلمانان د یوه لوی او ناڅاپی خطر سره مخامخ شول، او دوی په دی وپوهیدل که د دوی لښکر د مسیلمه د لاسه ماتی وکړی بیا به د اسلام ماتی ونه دریږی او په جزیرة العرب کی به د یوه خدای عبادت ونه شی.

خالد د خپل لښکر په سمبالښت پیل وکړ، مهاجرین او انصار بلکي د هر ځای خلک یی جلا جلا منظم کړل د یوه پلار زامن یی د یوه ورور د بیرغ لاندی ودرول تر څو په دی جنگ کی د هر یوه میړانه ښکاره شی، او بله دا چی دوی له کومی خوا د مصیبت سره مخامخ کیږی.

بیا د دواړو ډلو تر منځه د داسی سختو جنگونو اور ولگید چی د هغو مثال د مسلمانانو په پخوانیو جنگونو کی هم نه ولیدل شوی د مسیلمه لښکری د جنگ په میدان کی د غرونو په شان ټینگ ودریدل، او د خپلو زیاتو کسانو د وژل کیدلو پروایی ونکړه مسلمانانو په دغه جنگ کی خپلی بی ساری میړانی وښودلی تر دی چی د هغو دغه میړانی په مجموعی توگه د لویو جنگونو څرگندی نښی گڼل کیږی.

دا د انصارو د بیرغ اخستونکی ثابت بن قیس دی چی پر ځان معطر شیان مښی، ځان ته کفن تیاروی، د ځان لپاره تر نیمو پنډیو کنده وباسی او په کنده کی ټینگ دریږی، د خپل قوم د بیرغ څخه دفاع کوی او بیا شهید پریوځی.

دا د عمر بن الخطاب «رض» ورور زید بن الخطاب دی چی د مسلمانانو په منځکی داسی غږ پورته کوی او وایی : ای خلکو! خپل غاښونه سره کلک وښیلوی پر دښمنانو گوزارونه وکړی، او مخ په وړاندی لاړ شی.

ای خلکو په خدای سوگند زه له دغی خبری څخه وروسته بل هیڅ نه وایم څو چی مسیلمه د ماتی سره مخامخ نشی، او یا زه د خدای سره ملاقات ونکړم او هغه ته خپل عرض وړاندی نکړم.

بیا زید په قوم باندی وگرځید او تر هغه وخته وجنگید چی شهید شو.

پاتي لري

جهت رشد اقتصاد کشور ...

سایر کشور ها وارد میگردد قرار داد هاي ثبت شده سکتور خصوصي در این مورد به صد ها هزار تن بالغ میگردد.

محترم فیضان افزود : در مورد خریداري گندم از پاکستان تدارکات جریان دارد البته با فراهم شدن زمینه مناسب یعني توافق در قیمت و جنسیت گندم قرار داد خریداري مقدار ششصد هزار تن گندم به آن کشور بامضاً خواهد رسید.

قابل تذکر است که قبلاً قرار داد خریداري مقدار بیست و پنج هزار تن گندم با کشور پاکستان عقد گردیده بود که پروسه انتقال آن به کشور ادامه دارد.

نامبرده علاوه نمودند : طوریکه بر همگان معلوم است تجارت در کشور ما آزاد است تمام اموال طرف نیاز جامعه به استثناي آن اموالیکه از نظر صحي، شرعي و امنیتي مضر تلقي میگردد بدون موانع و محدودیت ها مطابق تعاملات تجارتي و قوانین نافذه به امارت اسلامي افغانسان وارد شده میتواند.

در تجارت افغانستان از طریق ایران و ترکمنستان کدام مانع عمده وجود ندارد ما از همکاري کشور هاي دوست در عرصه تجارت و ترانزیت اموال تجارتي افغانستان قدرداني میکنیم مشکلات ترانزیتي با کشور اسلامي پاکستان نیز تا اندازه زیاد حل شده امید است مشکلات محدودیکه در این عرصه تا هنوز باقي است بزودي با توجه مراجع مربوط حکومت اسلامي پاکستان حل گردیده ترانزیت اموال طرفین مطابق به قرار داد ترانزیتي موجود بین دو کشور و یادداشت عقد شده در مورد عملي گردد.

محترم فیضان در عرصه صادرات چنین گفتند :

از اثر جنگ هاي تحمیلي در کشور مشکلات و موانع زیادي عرض وجود نموده است که عمده ترین آنرا وضع ناهنجار تولید اموال، پائین آمدن کیفیت تولیدات اموال قابل صدور، از دست رفتن مارکیت هاي عنعنوي اموال صادراتي و مشکلات ترانزیتي و انتقالاتي تشکیل میدهد.

وزارت تجارت در پهلوي سایر ادارات ا.ا.ا کوشش دارد تا مشکلات و موانع عایده را رفع و زمینه بهبود وضع صادرات را که براي آینده اقتصاد کشور اهمیت حیاتي دارد مساعد سازد.

قابل یاد آوریست که در صدور اموال مجاز کشور محدودیتي وجود ندارد اما بر صادرات مواد غذایي و اموال وارد شده مواد اولیه ممانعت وضع شده و به تمام ادارات و مراجع امنیتي هدایت اکید صادر گردیده تا از صدور اموال طرف نیاز اولیه از کشور جلوگیري نماید.

در اخیر محترم مولوي فضل محمد فیضان چنین گفتند : طوریکه همگان میدانند تولید و صدور مال تجارت به خارج در عرصه اقتصادي هر کشور اهمیت قابل توجه دارد للذا وظیفه هر اداره امارت است تا در جهت انکشاف و توسعه صادرات کشور مساعي همه جانبه بخرچ داده و جلو بروز هر گونه مشکلات و موانع را بگیرد.

وزارت تجارت نه تنها اینکه در زمینه صادرات کشور طرف دار ایجاد محدودیت ها بشمول تزئید مالیات و تکس هاي گمرکي نیست بلکه علاقمند فراهم آوري هرگونه سهولت ها میباشد.

ذبیح الله «عزیزی»

په کابل کې د سرکونو د ترمیم ...

ترمیمولو د بیا جوړولو کار د کابل ښاروالی له خوا پیل شوی دی.

د کابل ښاروالی د کابل ښار د مهمو سرکونو ترافیکی جزیرو او د ګلدانونو د ترمیمولو او بیا جوړولو کار د روان کال په پیل کې پیل کړی دی او د کابل ښاروالی د یو مسؤول خبر ځای د خبر له مخی په روان کال کې به د کابل ښاروالی د شاو خوا کتیارو ، د زرنګار پارک د شاوخوا کتیارو د کابل ښاروالی د پنځمی ناحیی ودانی د زیر زمینی له څلور لاری څخه د زمبق تر څلور لاری پوری د سرکونو د غاړو د ویالو د پایر د بن د تأسیساتو او د کابل ژوبڼ د تأسیساتو ، د کابل سیند، د پل باغ عمومی او د پل خشتی په سیمو کې د کابل د سیند د غاړو په ترمیمولو اقدام وشی.

خبر ځای وویل د کابل ښاروالی د شاوخوا کتیارو د ترمیمولو کار بشپړ شوی دی او د زرنګار پارک د شاوخوا کتیارو د ترمیمولو کار دوام لری. او د طرحه شویو پلانونو د عملی کولو په مقصد له خصوصی او امارتی شرکتونو سره د هغو د قراردادونو د لاسلیک پړاوونه دوام لری.

کمک هاي جمعیت افغاني...

خوراکي را مساعدت نموده است .

جمعیت عالي افغاني سره میاشت به ادامه کمك هاي بشر خواهانه خویش با هموطنان اخیراً به ارزش یکصدو نودو سه ملیون و هفتصد هزار افغاني مواد خوراکه را به دو صد و نود و هشت فامیل مستحق در مربوطات نواحي هشتم و سوم شهر کابل توزیع نموده است.

طبق یك خبر دیگر طي یك ماه گذشته جمعیت عالي افغاني سره میاشت از طریق نماینده گي خویش در ولایت کندهار براي ده هزار و پنجصد و هشتادو پنج فامیل مستحق در ولسوالي هاي میوند ، ژیش، غورك، پنجوایي، ارغنداب، دامان، سپین بولدك، خاکریز و شاه ولي کوت آنولایت و همچنان براي هشت هزار و نهصدو ده تن مهاجرین ریگستان و منطقه شورا یك جمعاً هشتصدو بیست و چهار تن آرد نزده تن روغن دوازده تن دالنخود بیست و چهار تن بوره هفتادو پنج تن شیر خشك و بیست تن برنج را توزیع نموده است .

انجمن هنر هاي ...

براي اولین بار در چوکات کمیته المپیك ایجاد گردیده گنجایش سه صد تن از شاگردان را دارا بوده و توسط استادان مجرب آموزش این هنر رزمي پیش برده میشود.

مرکز دستگاه مخابراتي...

رئیس مخابرات ولایت کندهار در رابطه به توسعه خدمات مخابراتي در کشور صحبت نموده گفت : با ایجاد مرکز متذکره تسهیلات لازم مخابراتي براي هموطنان در داخل و خارج کشور فراهم گردیده است.

با ایجاد این مرکز که از ساعت هفت صبح الي نه شب فعال است تسهیلات لازم درعرصه فکس و مخابره بین المللي فراهم شده است.

در مراسم افتتاح دستگاه یاد شده نماینده شرکت مخابرات بین المللي بي سیم افغان نیز حاضر بود.

تسهیلات جدید مخابراتي...

دستگاه دیجیتل چینایي با بهترین و عصري ترین وسایل و سامان الات مخابره شهري ولایتي و بین المللي مجهز میباشد. چنانچه اجرت ثابت ماهوار مبلغ پنج هزار افغاني و في مخابره شهري پنج دقیقه یي یك هزار افغاني تعین گردیده است .

منبع افزود : اجرت نصب تیلفونهاي متذکره به اساس فورمه ها از طریق مدیریت عمومي محاسبه تیلفون وزارت مخابرات آغاز گردیده هموطنان تجار و ادارات امارتي میتوانند بعد از اخذ فورمه هاي صدوري وجه قابل تادیه را که صرف یك ماه اعتبار دارد در بانك تحویل نمایند.

د لګیدلي اور...

حالات لا پسی خراب کړی.

په اوس وخت کی نږدی شل زره تنه عسکر او د اور وژنی کارکوونکی هلی ځلی کوی چی د امریکا د لویدیځو سیمو په ځنګلونو کی لګیدلی اور ووژنی .

د اورد کنترولولو لپاره د اوبو شیندونکو هلیکوپترونو څخه استفاده کیږی په تیرو دوو اوونیو کی ددغی اورلګیدنی له امله دوه سوه اته پنځوس زره هکتاره زراعتی ځمکه او ځنګلونه وبجاړ شوی دی.

بهرنیو موسسو له ...

دغه راز د عینی شاهدانو د څرګندونو او د تر لاسه شویو باوری رپوټونو له مخی د مسعود پیژندل شوی قوماندانان او اشخاص هم په دغه ولایت کی د اوسنی امنیتی حالت او د یو بل تر ځنګ د پږدی اړیکو په شتـه والی ډاډمن نه دی او پخوایی خپلی کورنی نورو ځایونو ته لیږدولی دی.

رهبر کودتاچیان ...

فیجي در باز داشت بسر میبرد.

رهبر کودتاچیان فیجي گفته است که در جریان باز داشت مورد لت و کوب شدید نظامیان آنکشور قرار گرفته است .

در محبس پل چرخي ...

مجید براي شان صورت میگیرد.

همچنان در بخش صحي بخاطر وقایه و تداوي محبوسین یك باب کلینیك هفتاد بستر داراي سرویسهاي داخله، جراحي، ولابراتوار مجهز با داشتن دوازده نفر داکتر بطور بیست و چهار ساعته در خدمت محبوسین قرار داشته و همچنان بخاطر حفظ سلامتي محبوسین میدان ورزشي والیبال و شرایط ورزش مهیا گردیده است .

موصوف در قسمت مساعدت موسسات خارجي و سایر ارگانهاي امارتي با محبس پلچرخي گفت : وزارت دفاع ملي و شفاخانه چهار صد بستر همیشه در قسمت اکمال لباس پاپوش و ادویه مساعدتهاي لازم نموده و کمیته آي ، سي آر سي با حفر دو حلقه چاه عمیق مشکلات آب صحي آشامیدني محبس را مرفوع نموده است.

محترم قوماندان محبس پلچرخي در رابطه به اعاشه محبوسین و حفظ نظافت محبس گفت : استحقاق مکمل یومیه محبوسین طور پخته توزیع گردیده و از چگونگي حفظ الصحه پاکي و نظافت اتاقهاي محبوسین، آشپزخانه، نانوایي و سایر بخشها طور منظم وارسي صورت میگیرد.

په افریقا کي ...

د خبری آژانسونو د خبر له مخی په کمیرون کی د باران اورښت دومره سخت و چی له دریو ورځو اورښت وروسته د کمیرون د یوه ایالت مرکز د ووالا ښار دریمه برخه په بشپړه توګه ویجاړه شوی ده د کمیرون اردو له سیلاو ځپلو سیمو څخه د خلکو د لیږدونی کار پیل کړی دی خو تر اوسه پوری ددغی پیښی له امله د سر د رسیدلو زیانونو په باب خبر نه دی تر لاسه شوی.

په هندوستان کي ...

سیند د اوبو د زیاتوالی له امله به وژل شوی وی دغه سیلاو د میچل پردیش په ایالت کی د بریښنا انرژی د تولید دوه فابریکی زیانمني کړی او په لسګونو پلونه یې له منځه وړی دی.

دغه راز سیلاو مواصلاتی لارو ته زیان رسولی چی د لومړنیو شمیرنو له مخی یې زیانونه دوه سوه ملیونه ډالره اټکل شوی دی.

د ګوون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تولیدات فابریکه جن و پرس روبه ...

گردیده چنانچه فابریکه تصدي جن و پرس آن ولایت در شرایط کنوني سه الي سه و نیم تن روغن را در یك شبانه روز تولید نموده که به قیمت نازل از نرخ بازار طور عمده و پرچون براي هموطنان ما عرضه میدارد و در بخش تولید روغن در تصدي متذکره هفت پایه ماشین آلات مختلف النوع که توسط انجنیران و کارگران تصدي متذکره ترمیم و پاك کاري گردیده است و فعلاً فعالیت نور مال تولیدي دارد .

محترم ملا خان آغا رئیس پلان وزارت معادن و صنایع میگوید: در بخش پروسس پخته هشت پایه ماشین فعالیت داشته که در بیست و چهار ساعت مقدار بیست تن پخته را پروسس مي نماید در این تصدي دو صدو هشتاد نفر پرسونل فني و تخنیکي مصروف کار بوده که در کمپاین سال گذشته و سال جاري بیشتر از پنجهزار و دو صدو پنجاه و چهار تن پخته دانه دار را در سه کتگوري به ارزش شصت و شش ملیارد و پنجصد و نودو نه ملیون و چهار صدو هفده هزار و هفت صدو بیست دو افغاني در سه حوزه خریداري نموده اند .

موصوف اضافه نمود که مجموعاً مقدار بیش از یکهزار و ششصدو هفتادو نه تن پخته به صورت هاي مختلف بدست آمده که از جمله بیش از یکصدو پنج تن پخته لنتر و مقدار پنجاه و دو تن پخته سایکلون و نیز مقدار بیش از سه هزار و یکصد تن جگت یا پخته دانه دار به لورت هاي مختلف بدست آمده است.

محترم ملا خان آغا افزود : از مقدار جگت بدست آمده چهار صد تن آن به زارعین پخته کار ولایت بلخ به قیمت نازل به خاطر کشت توزیع گردیده و مقدار بیش از دو هزار تن آن در فابریکه تولید روغن بخاطر پروسس مواد فرعي انتقال یافته که از آن جمله مقدار بیش از چهار صد تن روغن تصفیه شده مقدار هشتصد و هشتاد تن کنجاره مقدار یازده صدو هشتاد و سه تن بوشتك و مقدار بیش از هفتاد و هفت تن مواد صابون بدست آمده است.

محترم ملا نثار نوري مسؤل آمریت عمومي ...

خبرنگار ما در زمینه گفت و شنودي را با محترم ملا نثار «نوري» مسوول آمریت عمومي اطفائیه ولایت کابل انجام داده است که خوانش آن براي شما عزیز دوستان خالي از دلچسپي نخواهد بود.

در آغاز محترم نوري چگونگي شیوه مجادله با حریق را در آن آمریت اینگونه توضیحات داد : فعلاً در سطح شهر کابل ۲ ستیشن اطفائیه با داشتن ۸ عراده موتر مجادلوي و ۷۰ تن پرسونل مسلکي فعال و طور ۲٤ ساعته آماده خدمت میباشد.

وي افزود : اطفائیه ولایت کابل توانسته است که از آغاز سال ۱٤۲۱ قمري تا کنون ٤٥ واقعه حریق را در شهر کابل خاموش بسازد. باید خاطر نشان ساخت که از **اثر وقوع ٤٥ حادثه حریق به ارزش ۲ هزار ملیون افغاني هموطنان ما متضرر و به ارزش بیشتر از هزار ملیارد افغاني اموال و دارایي آنها از حریق حتمي نجات داده شده است.**

البته علت افزایش واقعات حریق در شهر عمدتاً بي احتیاطي اطفال، روشن ماندن اشتوپ هاي دیزلي، لیکي اشتوپ هاي گازي و فرسوده شدن لین هاي برق ارزیابي گردیده است ؛ هکذا باید گفت که قواي اطفائیه ولایت کابل مطابق نورم و ستندرد بین المللي توانسته است که در صورت اخذ اطلاع وقوع حادثه در مدت ۳۰ ثانیه از ستیشن خارج شود.

محترم نوري اضافه داشت :

ما در پهلوي بخش مجادلوي اطفائیه بخش هاي تخنیکي، مخابره، تلعیم و تربیه و نظارت دولتي با سروي اساسي نیز فعال داریم که هر بخش از خود وظایف مشخص دارند؛ چنانچه اخیراً ما موفق گردیدیم که با تدویر کورس یکماهه به شکل نظري و عملي توسط استادان مجرب بخش تعلیم و تربیه ۵۰ تن از افسران خویش را تربیه مسلکي نمائیم، همچنان به منظور تقویه و گسترش بخش تخنیکي اطفائیه ، ما اکیداً یکتعداد از مؤسسات غیر حکومتي بین المللي چون : کمیته صلیب سرخ، جرمن اگرواکشن، اکتید و ... که در بخش باز سازي افغانستان فعالیت دارند تماس حاصل نمودیم تا اگر بتوانیم کمك هاي آنها را در عرصه **انکشاف ستیشن هاي اطفائیوي شهر جلب نمائیم، مگر با تأسف که تا حال از جانب آنها هیچ نوع کمك صورت نگرفته است.**

به عنوان آخرین حرف محترم نوري گفتند : در صورت بروز واقعات حریق همشهریان شهر کابل میتوانند عندالموقع با این نمرات اطفائیه کابل را تیلفوني در جریان قرار داده و الي رسیدن قواي اطفائیه کلکین ها و دریچه هاي بازکن اطاق هاي محرق را مسدود نمایند : تیلفون : ۲۰۱۲۱-۲۰۱۲۲-۲۰۱۲۳- ۲۰۹٦٤ و ۷۱٤۰۰ .

مهربان

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press